# تاسې، زه او موږ Kulturskolan یو

کلتوري ښوونځی داسې کورسونه او فعالیتونه وړاندې کوي چې په هغې کې به هغه ماشومان او ځوانان چې عمرونه یې د 6 او 19 کالو ترمنځ وي کولی شي چې سندرې، نڅا، په فلم کې کار کول، انځور، سرامیک، سرکس، تیاتر او ساز او داسې نور شیان امتحان کړي.

## موږ له ماشومانو او ځوانانو څخه پیل کوو

د کلتوري ښوونځي تر ټولو مهم خلک ماشومان او ځوانان دي. موږ په خپلو هنري او زده کړیزه فعالیتونو کې ترټولو لوموړی د ماشومانو د کنوانسیون د 31 مادې چې پکې ویل شوي ټول ماشومان او ځوانان د کلتوري حقوق د ترلاسه کولو حق لري، څخه اقتباس کوو.
,, د کنوانسیون ټول هیوادونه باید د ماشومانو دا حق چې ماشومان باید په پوره توګه هنري او کلتوري مشارکت ولري، ته احترام وساتي او هغې ته ترویج ورکړي او د کلتوري، هنري او تفریحي مناسب فرصتونه ته زمینه مساعده برابره او دوې تشویق کړي.,,
سره له دې د ښاروالی د سیاسي اهدافو څخه به پیل وکړو، ماشومانو او ځوانانو ته باید د کلتوري تجاربو فرصوتونه برابر کړای شي، او هغو ته اجازه ورکړل شي تر څو خپل د خلاقیت توانائي پیاوړې کړي. Kulturskolan غواړي چې ماشومانو او ځوانانو ته د تجربې، کشف، بیان هنر او کلتور امکانات برابر کړي.

### کلتوري ښوونځي باید:

- د ماشومانو او ځوانانو لپاره چې عمرونه یې د 6 او 19 کالو تر منځ وي هنري او د زده کړې بیلابیلو کلتوري او هنري فعالیتونه برابر کړي.
- د لوړ کیفیت او د وسیع او ژور امکاناتو فعالتیونه برابر کړي
- د داسې فوري پیشنهاداتو وړاندې کول په کوم کې چې نوموړی نهاد په خپل کړنلاره او شکل کې انعطاف منونکی وي.
- خپل فعالیتونه باید په قصدي ډول د ماشومانو او ځوانانو د بیکارۍ په وخت کې برابر کړي، او د یو داسې معناداره فارغ وخت لپاره په برابرولو کې مرسته وکړي چې ماشومان ترېنه ګټه پورته کړي.
- نهاد ته د شکل ورکولو لپاره د ماشومانو او ځوانان ګډون
- د هنري، فردي او ټولنیز رشد لپاره باید د ملاقات یو داسې ځای شتون ولري چیرې چې ماشومان او ځوانان د یوتي بوري د ښار له هر ګوډ څخه له یو بل سره دلته لیدل کتل وکړای شي.
- د یو معادل فعالیت وړاندې کول چې د هر ماشوم او ځوان لپاره چې عمرونه یې د 6 او 19 کالو تر منځ وي هغې ته لاسرسی ولري او د معناداره فارغه وخت کې مرسته وکړي.

## زموږ مضامین او کورسونه

کلتوري ښوونځی بیلابیلو کلتوري او هنري بشپړ کورسونو او فعالیتونه لري. دا فعالیتونه د ماشومانو او ځوانانو په فارغه وختونو کې یعنې وروسته له ښوونځي، وروسته له ماسپښینه، د اونۍ په رخصتۍ او نورو رخصتیو کې ترسره کیږي. تاسې چې عمر مو د 6 او 19 کالو ترمنځ وي کولی شئ په ښوونځي کې د زده کړو هغه کورسونه چې ستاسې عمر سره سمون خوري، درخواست ورکړئ.

Kultur skolan

**مضامین**
رسم او شکل
سرکس
نڅا
ډرامه، تیاتر او ساز
انځور او فلم
موسیقي
د هغه چا لپاره چې عمر یې د 13 او 19 کالو ترمنځ وي هنري او تخلیقي توسعه

**کورسونه او فعالیتونه**

کلتوري ښوونځی لنډ او اوږده مهاله کورسونه لري. ځینې یې داسې دي چې په څو پړاونو کې ترسره کیږي، دې سره ځینې داسې دي چې یو کال دوام کوي. په دې کې ډیر فعالیتونه وړیا دي او ځینې یو څه اندازه فیس لري.
ځینې موارد داسې هم دي چې د کلتوري فعالیتونو لپاره تاسې باید پرته له هغه ښوونځي څخه چې تاسې پکې زده کړې کوئ بل کوم ښوونځي ته باید رجوع وکړئ، ځکه د کلتوري ښوونځي په هر تعمیر کې ددې فعالیتونو لپاره ځای نه وي. ددې فعالیتونو تقسیم اوقات د معلم په مشوره د ترمین په پیل کې ترتیبیږي.

هر هغه کورس چې تاسې پکې دلچسپي لرئ، ځان ثبت کړئ. دا باک نلري چې تاسې نوی پیل کړی او که مخکې مو په دې ډګر کې علم درلودلی، تاسې به داسې ګروپونو ته استول کیږئ چې د امکان ترحده به ستاسې سطح سره سازګار وي.

موږ د رخصتیانو په دوره کې هم فعالیتونه لرو او پرته له دې ټول کال آزاده فعالیتونه هم لرو، چې تاسې کولی شئ چې په هغې کې متعدده فعالیتونه امتحان کړئ، او دا ملاحظه کړئ چې ستاسې کوم فعالیت خوښیږي. ددې فعالیتونو لپاره اړینه نه ده چې تاسې ځان ثبت کړئ، فقط راشئ او پیل وکړئ.

## زده کړه ورکول

کلتوري ښوونځی د ونډې اخیستونکو اړتیا ته په کتو سره انفرادي فعالیتونه پیلوي. زده کړې په وړو او غټو ګروپونو کې په سویډني ژبه ورکړل کیږي.

د کلتوري ښوونځي استادان خپلو درسونو کې مفیدې زده کړې لري. ډیری پکې مسلکي هنرمندان دي. زموږ استادن مسلکیان دي او د ونډه اخیستونکو د تمرکز اړتیاو ته ځواب وایي.

## د هغه کسانو لپاره چې ځانګړې اړتیاوې او معلولیت ولري

تاسې چې معلولیت لرئ، ستاسې لپاره موږ مناسب او هدف لرونکي کروسونه په نظر کې نیولي دي. موږ د امکان تر حده ستاسې شرایطو او اړتیاو ته په کتو سره خپل فعالیتونه تنظیمو. تاسې یواځې کولی شئ په دې فعالیتونو کې ونډه واخلئ او سره له دې داسې کورسونه هم شتون لري چې ستاسې سرپرستان او یوځای خلک هم پکې ګډون وکړي. سرپرستان او تاسې سره یو ځای خلک د هغو د میلان په صورت کې کولی شي چې په دې فعالیتونو کې ګډون وکړي او یا دا چې تاسې سره د درس په کوټه کې کښیني. دا کار به د استاد په مشوره ترسره کیږي.

تاسې کولی شئ چې هدف لرونکي او سازګارې محدودې زموږ د کورس په کیټلاک کې پیدا کړئ. دا نوموړي کورسونه نه یواځې ستاسې د ژوند کولو ځای سره نیږدې تنظیمیږي بلکه دا فعالیتونه د ښار په بیلابیلا ځایونو کې ترسره کیږي. په کومو کورسونو کې چې تاسې غواړئ ګډون وکړئ او په کوم ځای کې چې تاسې ژوند کوئ هغه کورس ته لاسرسې نشئ پیدا کولی نو ددې امکان شته چې د نوموړي کورس لپاره په کومه بله منطقه کې درخواست وکړئ.

که چیرې ددې په هکله ډاډه نه یاست چې کوم کورس په ستاسې لپاره مناسبه وي، نو تاسې یا ستاسې د کور کوم غړی کولی شي چې زموږ د کلتوري ښوونځي له مشاورینو سره په اړیکه کې شي تر څو هغو له تاسې سره مرسته وکړي او مناسبه کوروسنه تاسې ته پیدا کړي.
په goteborg.se/kulturskolan انټرنټي پاڼه کې د " För dig med funktionsnedsättning" عنوان لاندې په دې هکله لا ډېر ولولئ.

## اړیکه او ټولنیز کانالونه

دا کلتوري ښوونځي د یوتي بوري ښار په څلورو جغرافیائي منطقو کې خپور شوی چې هغه دا دي Centrum, Hisingen, Nordost och Sydväst. له kulturskolan سره د اړیکو ټینګولو لپاره ترټولو ساده لار د ټلیفون او ایمیل لار ده، او دا اړیکه به د خپلې منطقې له نمایندګۍ سره ټینګوئ. تاسې کولی شئ د اړیکو ټول معلومات goteborg.se/kulturskolan په دې انټرنټي پاڼه کې پیدا کړئ.

تاسې کولی شئ چې موږ په ټولنیزو کانالونو یعنې فیس بوک یا انسټاګرام کې و څارئ.

**Facebook @kulturskolanigoteborg**
**Instagram @kulturskolangoteborg**